## غزل

ـــانونه پکې وتـــــــــړم
زه نيت دهرلمانځه تـــړم

ـايي کې عادت شوی يـــم
ــې له ننه دروازه تـــــــړم

وخاپونه رانه يونه ســــــي
دبرکـــلي چينه تـــــړم

ل په ښکلوپاڼوکـــــــــې
ـــفظونه پکې زه تــــړم

ې اوښکې په لاس وڅاڅي
تنۍ دګرېوانه تـــــــــړم

! ښکلی نه يې خوښ مې يې
و په تا پورې دا زړه تــــړم

خاپونه



# غزل

رايـــې وړو هـــوا کـــې په هـــوا باران
دغــــه کاغذي کــــشتۍ او دا باران

نه ورکـــوي خلـــکو ته يو غرېپ اوبه
شکـــــر چې را اوري په هر چـــا باران

سترګو کې چې وران درته رانجه نه کړي
لــــــپو کـــې رانيســـمه لـــه تا باران

دومـــــــــــــره دې راو اوري، راو اوري
اوښکې مې چې ورکې کـــړي له ما باران

ګوره چې انـــــکار له ميني ونه کـــــړې
زما او ستا په منځکې و شـــــېـــدا باران

يـــــاره حـــــليمي له تندې مړ شومـــه
کلـــــه به را اوري پــــه دې خـــوا باران

حضرت خان حليمي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

داچې له هــــرې خوا ډبرې راځي
خود به  دې غرونو ته کوترې راځي

له سترې ژونده چې انکار ونه کړې
په ژوند کې هــر ډول خبرې راځي

دغره شپونکي په سپېرو شونډو ویل
خولې ته مې تل دغم سندرې راځي

دستا دشونډو جام کې څه ؤ آشنا
اوس مې په سر باندې چکرې راځي

یوه سپین کالي بل سپین کالي ته ویل
راځــــه چې ځــو دلته سوالګرې راځي

حــــليمي زړه دې ښه سمبال وساته
په دغــــه لار نن جــــادوګرې راځي

خاپونه



## غزل

له تا چې راغـــلمه په لار کېناستم
دزړه له درده زه قـــرار کېناستم

تورو بـــارودو دلوګــــــیو منځ کې
په خپلو وینو سور سینګار کېناستم

میـــنه خــــو ما دروغ  دروغ ګڼله
داځنګه زه په دې انګار کېناستم

دا زه پښتون ستا دټوپک شپېلۍ ته
ډېر ناخبره لـــکـــه ښکار کېناستم

بادونو راوړم ستا تر سرو اننګو
زه حلیمي لکه غبار کــــــېناستم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

مړه کېدل به څراغونه توره شپه کې
چې راتلل به طوفانونه توره شپه کې

په رڼا ورځ به په خپله پکې ګیر و
اچول یې چې دامونه توره شپه کې

زما ورځ خو له ماښامه شروع کېږي
په سر واړوم جامونه توره شپه کې

اعتبار دلته یو بل باندې څوک نه کړي
اوس څوک نه کوي خوبونه توره شپه کې

ته بې غمه په پالنګ باندې ویده یې
زه دې ګورم تصویرونه توره شپه کې

حلیمي اشنا له تا نه چې راتلمه
ړنګول مې پښو خاپونه توره شپه کې





# غزل

الوتل کړې په ګډا یې، په هوایې
غېږ ته نه راځې هوا یې، په هوا یې

ستا دکلي خلک واړه درپسې دي
ته راوان له دې دنیا یې، په هوا یې

دکابل دتخت کیسه څومره اوږده شوه
تخت ته وواېه دچا یې ؟ په هوا یې

دحالالا تو په تور تم کې خړ پښتونه
په نړۍ پسې له شاه یې، په هوا یې

حلیمي جانانه کله به رادرومې
ته مې روح یې ته مې ساه یې، په هوا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

خاموشي وه سیورى هم راسره نه و
د درد شپه وه دځان غم راسره نه و

له ژړا نه مې زړه ډېر و راډک شوی
په لېمو کې دومره نم راسره نه و

دوخت ډېره مجبوري وه گرانه یاره
ستا کوڅې ته یو قدم راسره نه و

اوس چې ښکلیه ستا نامه نشم لیکلی
ماشومتوب کې هېڅ قلم راسره نه و

خپل زړګی مې اوس له تاسره درپاتې
ښکلیه رایې کړه چې تلم راسره نه و

حلیمي او دملګرو په قسمت کې
په حجره کې نن چلم راسره نه و





# غزل

د ستا پر مخ باندې پراته گردونه
لکه چې وي پر گل د غره گردونه

یو خوا د زلفې په هوا الوتې
بل خوا هوا ورته راوړه گردونه

د مخ هینداره کې یې څه نه ښکاري
د چا چې ډېر وي پاس پر زړه گردونه

سترې ستومانه چې تر کوره راشي
پر اوږو راوړي خر سپېره گردونه

حلیمي ته چې کله تلې له کلي
درپسې شا نه الوته گردونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ناست یمه له ځان سره یوڅه لیــــکم
دردپه سپینه پاڼه کې دزړه لیــــکم

خلکواعتبارپه ښکلوونه کــــړئ
داسې یواعلان په دېواله لیــــــکم

جوړه یې مرمۍ کړه دایې وویــــــل
زه په دې اجل دپښتانه لیــــــکم

یوسړي مې زړه کې ځای نیولی دی
داجمــــله دزړه په دیواله لیـــــکم

ته مــــې حــــــلیمې ډېرپوروړی یې
تاپسې دژوندهره شېــــبه لیـــــکم

خاپونه



# غزل

ستاداوربل سیوري ته دمه راوړم
ښکلیه جانانه ژوندله غمه راوړم

له تورو وینویې خالــــونه کېږده
لپه کې زړه درته صــــــنمه راوړم

چې دپښتون ځادرته زیان رسوي
دا ازغــــن تار به له تورخمه راوړم

دپردېسي په سرولمبو سوځــــېږم
تاته دینارلــــه جــــــهنمه راوړم

نن یې ملګروراته داسې ووېــــــل
حلیمي سترګوکې دې وړمه راوړم

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

بېګادشـــپې سرې هواسره مرغان الوتـــل
ستاانتظارکې مړه، مړه څاڅکي دباران الوتـل

په خړوخاوروشمعې اوښکې تویولې اشنـــا
زماپه لاس کې سوي، سوي پتنګان الوتـــل

هغولاسونونه چې موږبه ترې دعاغوښتــله
هغولاسونوباندې کاڼې پرانسان الوتـــــل

دستادتلوشپې بېګاراته په خوب کې راتلـې
په تاپسې مـــې دواړه لاسه پرېشان الوتـــل

دصـــحراباده چې زماپه لور راوالوتلــــې
زماله غېږې تصـــویـــرونه دجانان الوتـــل

حلیمي موږپه هغوخلکوپسې ځـــوروان یو
دچاله وېرې چې په خوب کې ماشومان الوتل

خاپونه



# غزل

لکه بنګړي چې له مړونده باســـي
داسې اوس ماله خپله ژونده باسي

هغه دخیرکارکې نه دی اخـــته
هغه یوچاته غټه کنده باســـــي

دنن سبادزمانې مـــــــینان
یوبل دمینې له سوګنده باســـي

هغه چې تابه دخپل ځان ګڼـــله
اوس یې له کلي په څرګنده باســـي

راتــه غوسه کې وایي ښه ده مړشه
دزلفوتارمې له پیونده باســـــي

ښکلیه ته هغه حلـــــیمییادوې
هغه خونشته تللی ژرنده باســــي

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ته مې رنګ دژوندانه یې هــــــېر مې نه یې
په هر وخت کې مې په زړه یې هېر مې نه یې

ستا تصویر ته مې بېګا شپه مې شبګیره کړه
که زما په خــــنګ کې نه یې هـــــېر مې نه یې

ســـــــــتا یادونو ډېوې بلې ساتم زړه کې
ته که ورې بېلتانه یې هـــــــېر مې نه یې

دســـــــپېرو شونډو په جام کې به دې څښمه
دسرې چینې اوبه یې هـــــــېر مې نه یې

تاپسې مې مـــــــینه ناکه اوښکې درومي
زما سترګې او لېمه یې هـــــــېر مې نه یې

ته پر ما حلـــــــــــــیمي یاره باور وکړه
هېر مې نه یې، هېر مې نه یې، هېرمې نه یې

خاپونه



## غزل

سپېره بادونه خړې خاورې دي منظرتږی دی
بارانه و اوره دپېغلو هرګودر تـــــــږی دی

په دومره سترې پرېشانه زندګي کې خلـــــکو
ماخو لا څه کوې زړګی دسمـــــــندر تږی دی

له کوره مه رواځه ښکلیه رانه وبه دې خوري
دلــــــــته دځینو انسانانو تر یخ نظر تږی دی

څومره رڼې، رڼې خولې یې درنه وباسلــــــــې
ښکاري دستا په سر جانانه دغه لمر تږی دی

دکابل جان دســـــــیند څپو نن راته داسې ویل
په غور ځنګونو کوز ور ځمه خړ خیبر تږی دی

حلـــــیمي دوی خو دشرابو جام په سر واړوي
دوی څه خبردي چې دلارې مسافر تږی دی

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

سترگـــې مې له هر څه نه خبرې دي
خـــوله باندې پرتې راتـــه ډېرې دي

اخــــلي هم سرونه هم ايمان دلـــته
دلته دا پـــيســـې څه زوروري دي

زه به يې گـــرېوان په تار کې وپېيـــم
اوښکې د ســــتا ښکلې ملـغلرې دي

دغه دېواله کـــې د مـــرمۍ نښـــې
ناستـــې بيا له پاسه پرې کـــوترې دي

وه ظالـــمې څنگه تکـــې تورې دي
ښکارې چې خوړلې دې گور گورې دي

هېڅ دې حليمي خيال کې راوړی نه شم
نـــن زما د خيـــال ماتې وزرې دي

خاپونه



# غزل

ماانځورکړ داخپل زړه په دېـــواله
باران راوستــــې اوبه په دېـــــواله

راته گران دی چې جانان پکې اوسېږي
ځـــــکه لاس وهمه زه په دېــــــواله

دکلونومسافـــــــربه بېرته راشي
هروخت گورمه کارغه په دېـــــواله

وه ظالمه ! ســــــتادتورټوپک مرمۍ
خښېـــدلې دېواله په دېـــــــواله

حليمي چې رانه ځې نښه دې غواړم
راته ولـــيکه يوڅه په دېـــــواله

حضرت خان حليمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

چې له ښنو مې هره لاره ورکېدله
بړبوکۍ وې له غباره ورکېدله

په سجدو کې ډېر سکون و پاکه ربه
وېره زما له ګنهګاره ورکېدله

مخامخ چې راته ناست وی څه به ښه وه
داګیله مې اوس له یاره ورکېدله

دنښتر دڅېو شور وزه او ته ؤ
یوه خبره له ما خواره ورکېدله

دپردي وطن کوڅو او په ګرمو کې
زندګي مې ستا لپاره ورکېدله

حلیمي دراتلو غږ به چې راوشو
داسې وخت کې به هنداره ورکېدله

خاپونه



# غزل

لکه مرغۍ دستاله سترګو الوتله مینه
زما په زړه باندې جانانه کېناستله مینه

په لمدو شګو به مې څو، څو ځله ولیکله
دسیند څپو به بیا له ځانه سره وړله مینه

له دغه ښاره چې تېغر کله دجنګ تېولېده
دخلکو زړونو باندې ورو، ورو ورېدله مینه

پښتونه ستا دژوندانه په دغه وران تصویرکې
ستا دګرېوان له هره تاره څڅېدله مینه

دژوند بازار وپکې نرخ هیچاته نه و معلوم
چا اخیستله چا وړیا لاس ته راوړله مینه

حلیمي ووایه دا څه درباندې شوي اشنا؟
دستا په مخ کې به مې هر وختې لیدله مینه

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دغه خبره مې دخپل زړه له مـــــحرابه کېږي
دا زندګي خــــــو نه له جام نه له شرابه کېږي

زه رالوی شوی په سرو وینو او په جنګ کې یمه
اوس مې دستا په لاس کې کـرکه له ګلابه کېږي

زما دوران کلــــــــــي جانانه دامې ښه ومنه
له تاسره مې مینه ډېره بې حسابه کـــــــــېږي

په سرو غرمـــــــو چې مسافرو ته اوبه و کوې
دا بارانونه خو له دغه یوه ثوابه کـــــــــیږي

حلــــــــیمي داخلک په دې خبره پوهه دي چې
دا ناروا کارونه واړه له جنابه کــــــــــېږي





# غزل

داچې ورک له مانه خوب دی بل څه نه دي
دا دمینــــــــــې لېونتوب دی بل څه نه دي

چې په ماپسې له شانه کاڼي ولــــــــــــې
دادې نوی پېغــــــــلتوب دی بل څه نه دي

کــــــــــــــومه تمــــــه درته نه لرو خانیه
دازمورږه مېلـــــــمه توب دی بل څه نه دي

لوی سړی یي په خبره نه پوهـــــــــــېږي
تاکې هغه ماشومـــــتوب دی بل څه نه دي

داښاري جینکـــــــــې دومره ښکلې نه وي
دا یې واړه سینګارتوب دی بل څه نه دي

حلــــــــیمي څنګه حیران آینې ته ګورې
له تاتللی زلـــــــــمیتوب دی بل څه نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

لــــــکه شبنم چې دګل پاڼوپه لمنه کــېـنـي
داسې هغه راځي زما په زړه دننه کېـــــني

ښـنـه غواړم خفه نشې بس څه وکړمــــــــه
زماداترې نظرســــــتاپه غونډه زنه کېني

زموږ هیواد ته به داورکه سوله کله راځي
زماپه خیال کې تل همدغه یوه پوښتنه کینـي

ګومان مې دادی هغه تللـــــی مسافربه راځي
یو تور کارغه دی چې همېش دلته په غنه کېني

داکوم رواج دی حلیمي او څومره ظلم کوو
چې یو بوډا ته په نامه څوارلس کلنه کـــېـني

خاپونه



## غزل

وخت خــراب دی تر کوځې نه راوځي
ښکلـــي هېڅ له دروازې نه راوځـــــي

خیال کوه هسې نه درنه خفه شـــــــم
ښه لفظونه ستــــــا له خولې نه راوځي

ټوله ورځ په مزدورانو ظلـــــــم وکړي
بیاډاربړي خان دشـــــــپې نه راوځي

تل دتورو اوږدو زلفو خیال کې ډوب وي
شېـــــــــخ له جېبه اوس تسبې نه راوځي

دیارمینـــــــــې مې په زړه اور بل کړی
داسې اور دی چې لمبــــــــې نه راوځي

یوه ښکلي حلیمي ته دا ویــــــــــــــــل
ستـــــــــاله لاسه اوس پېسې نه راوځي

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ورک منزل دی مسافر یم، ځم روان یم
در په در خاورې په سر یم، ځم روان یم

خدایه ستاپه دومره لویـــه دونیاگۍ کې
بې ساحله سمــــــــندر یم، ځم روان یم

ډېر په کړس راباندې مه خانده کوڅه کې
ډېر زخمي دزړه په سر یم، ځم روان یم

ته زما په قدر کله هم پوی نه شـــــوې
زېړی لمر دمازدیگـــر یم، ځم روان یم

حلیمي لکه اغزی تاته داســـــــــــې
سـتاپه سترگو کې اکثر یم، ځم روان یم





# غزل

زړه مې په ژړا وي بې له تا
ژوند راته بلا وي بې له تا

ته لکه باران دپســـــــرلي
وچه هره خواوي بې له تـــا

ستاکوڅه کې ما وهي په سر
خوښه دهر چاوي بې له تـــا

وکړه ته پوښتنه دهـــــــغه
ناست به تر سباوي بې له تا

راشه له پردېسه حلیـــــــمي
ورانه به پکتیاوي بې له تا

# غزل

که دنفرت غشو څېـــرلي زړونه
موږ بيا دعشق په تار گنډلي زړونه

دياریٔ چل باندې پوهېږو خلـــکو
په مينتوب کې مو گټلـــي زړونه

په زړه يوه په ژبه بله وايـــــــي
له داســـې خلکو مو ساتلي زړونه

پښتـــنو نور پرې اعتبار ونه کړئ
ډېر يې سينو کې دي وژلي زړونه

حليمي مينې ته يې څنگه ښه کړو
ښکليو مو هر ځای کې داغلي زړونه





# غزل

چې جـــوړوي زموږ له کــــوره بلا
خدای به يېووهي په تـــــــوره بلا

دوروریٔ غېږه به زه در کـــړم اول
له اوږې وغور ځوه ورورە بــــــلا

کلي کې هر سړی په څنگ تر ېنه ځي
خدای پيدا کړې له ېوې موره بــــلا

ای مسافــــره په دې لار لاړ نه شې
دې لار کې شته يوه سړي خوره بـــلا

دمور او پلار دعا دې وړې اشـــــنا
حليمي ځکه شوه نسکوره بـــــــلا



(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

داچې په ماباندې رڼا راتهولـــــــــه
دا دخوږې مور په دعا راتهولـــــــه

ددې خږ پږ سالو دې ځار شم جینۍ
پکې دتهول کلي حيا راتهولــــــــــه

ربه ژوندون مو په خوښي بدل کــړه
درته مو لپوکې ژړا راتهولـــــــــــه

زموږ دخلکو خيال جنگي غوندې دی
ځـــکه پردوی باندې بلا راتهولـــــــه

حــــــليمي مه ځه دپردېس په لوري
ستا په ليدلو زما ساه راتهولـــــــــــه





# غزل

روغ به نه شي پر بل چا دازړه
ما بايللــــــــی دی پر تا دازړه

ورته ووايه چـــــــې نه خاندي
رانه وړي تل په خـــــندا دازړه

ته چې لاړلې په تاپســــــــــــې
څړيکې، څړيکې شو زما دازړه

خوئ زما د مـــــــــــــلنگانو دی
په ســـــينه کې مې پاچا دازړه

خدايه ما حلـــــــــيمي وساتې
له مــــــاخوري يوه بلا دا زړه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په چیغو ژاړي دخپل یار په قبر سر شکوي
پرونۍ ناوې نن مشکنې له ټټر شــــــکوي

پښې یې ورماتې کړلې ملا یې هم ورماته کړله
اوس اوسپنیز لاسونه څنې له نښتر شـــکوي

لکه وحشي زمور دکور په دېوالو را اوړي
په نیمه شپه کې مو پردې زمور له ور شکوي

ظالم لوټ کړې ده زمور دخوشحالۍ خزانه
خدایه تباه یې کړې هغه چې لر او بر شکوي

بیایې لیدلي ده خوبونو کې شهیده لـــــیلا
ځـــکه هغه مین گرېوان په هر گودر شـــکوي

خاپونه



# غزل

داپه زړه زماارمـــــان دی
ستاراتله زماارمـــــان دی

چې دېوران واړه سینگارشي
داسې کـــړه زماارمـــــان دی

دپردي وطـــــــن کوڅونه
خلاصېده زماارمـــــان دی

ستادمینې په دریاب کـــــې
عرقېده زماارمــــــان دی

حلیمي له تانه غـــــــېره
اخیسته زما ارمـــــان دی

حضرت خان حلیمي

# غزل

اې زمانصيبه خواره،يم بې يـــــاره
دژوندون په هره لاره،يم بې يـــــاره

درقيب له لاسه داسې پرماوشــــــوه
زه اوس گرځم بې ر يباره،يم بې يـــاره

نورزماله دې پردېسه زړه مات شـــوی
هره شپه يم بې قراره،يم بې يـــــاره

هله ورشه لاس په لاس يې غېږته راوړه
زه به مړشم خدای دپاره،يم بې يـــاره

ماحليمي  ته اوس ملنگه دوعاوكـــړه
يم بې كليه،يم بې ښاره،يم بې يـــــاره





# غزل

زه او دا اوږدې لارې
ژونده ستاپرتې لارې

ستاغم کې مې نوې کړې
دادمېـــــخانــې لارې

دلته به تـــــرڅوخدايه
وي په ويــنوسرې لارې

تاته انتظاركـــــوي
زمـــاددروازې لارې

كلـــــــكوارادولاندې
لويې شـــــي وړې لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماباندې راتنگې شـــوې
ستاسودکـــــوڅې لارې

ښې لارې ددې کلـــــې
دې دهـــــــديرې لارې

دلته کې مين خـــــلک
تل وهي دشـــــپې لارې

موږه پښـــــــتنوباندې
بندې دتوبـــــې لارې

مانه حـــــليمې اشنا
ولې بدلـــــوې لارې





# غزل

په غمونو به يې خــــورې پخې
دزړه غوښې مې دې کړې پخې

نازولې پرې راځي خــــلکو
ورته واړه کړئ کـــــوڅې پخې

په منگي ياراو به ورکــــوي
چې شي ژر، ژرشنې منې پـــخې

بې وفاياره ســــــتاپه تصوير
ماپرې کش کړې کرښې دوې پخې

حـــــليمي جانان مې روغ نه دی
راپيداکړئ زولنې پـــــخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دپښوخاپونه يې زماپه زړه کې پاس پاتې شول
شونډورنگونه يې په څنډودگيلاس پاتې شول

ته چې ددغې زمانې په رواجونولاړې
ماته دعمرپيغورونه په مراث پاتې شول

ماچې ددردکيسه راواخيستله تاته اشنا
دستاپه شونډوکې لفظونه دلباس پاتې شول

خيردی که مادرپسې اوښکې باران کړې نه دي
خوپه گريوان مې سيلابونه داحساس پاتې شول

حليمي ته خوماپه خواداسې لېدلی نه وې
داوښکوڅاڅکي دې رانه زماپه لاس پاتې شول





# غزل

زړه مې نه کيږي زه بياځمه روان يم
مجبوري ده چې له تاځمه روان يم

ديوې کلکې غيږې په ارمان زه
تاته راغلم نن سباځمه روان يم

ورشه راوړه ماته بېرته شنه بنگړي
جينۍ نه اخلې سوداځمه روان يم

سترۍ، سترۍ يم يوه لپه او به څښنم
کاڼي مه وله ماما ځمه روان يم

زه حليمي دپردېسۍ گرمۍ وهلی
اوس په لارلکه بوډاځمه روان يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څه عجیبه غونډې کمـــال دې وکړ
خفه دې ولیدمه ســــوال دې وکړ

چې بې پوښتنې دزړه کورته راځي
ځومره دښې زندګۍ خیـال دې وکړ

تارانږدې کړه خولګۍ رادې نه کړه
هسې دمینې یومـــــثال دې وکړ

وه په پردي ټوپک مین لالــــیه!
په خپل وطن باندې څه حال دې وکړ

حـــلیمې نن راته په سورنه ښکارې
ډېرپه وړه کیسه جـــنجال دې وکړ





# غزل

تنهایي ده دېوالونه راســــره دي
ته که نه یې ستا یادونه راسره دي

مازدیګر دې چې په مینه راکـــتل نو
اوس دمینې کتابونه راســــره دي

مروره یاره داځلې مې مــعاف کړه
مخ راواړوه ګلونه راســـــره دي

دا دې څه چل کړی یاره خبر نه یم
ستا په اړه ډېر خیالونه راسره دي

حــلیمي دژوند له خونده خبر نه یو
خیر غواړو سوال جامونه راسره دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د ماښام ستوری مې دا ستا په محبت نیولـــــــی
همدغه ستوري ستا له حسن نه لذت نیولـــــــی

زړه مې ماشوم غوندې ژړا کړي ورته وایم غلی!
خدای خبر کوم یوه ذاهد په کرامت نیولـــــــی

لکه هندو لاس په نامه راته هـــــمېش ولاړ وي
راسره مینه محبت یې په دولت نیولـــــــی

ده خــــو ویل چې به یې اور ته غورځوی نو ولې؟
زمــــا زړګی ښکلـــــي دی داسې سلامت نیولی

زه حلیمي به پښتون نه یم که ســـــتا مینه پرېږدم
دمیني ځای مې ګرانې ډېر په عقیدت نیولـــــی

خاپونه



# غزل

نوري نه کړمه بادونو پسې مــــنډې
چې وهمه ستا په پلونو پسې مــــنډې

بېګا شپه مې دزړه حال ورته ویلی
اوس وهمه دېوالونو پسې مـــــنډې

ددې ښار او ددې کلي بدرنګۍ ته
چېرته وکړمه رنګونو پسې مـــنډې

ماته یوه شېبه دمینې ده ګلـــرنګه
نه د ډېر عمر کلونو پسې مـــــنډې

نن مې ستا دهېرولو چل زده کړی
یاغي خیال وهي یادونو پسې مــنډې

له غم ډکه زندګي حـــــلیمي ښه ده
زړه مې نه غواړي خیالونو پسې منډې

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زموږه زړونه له سينو پرېوځـــــي
دغم ګردونه په لېمو پرېوځـــــي

دژوند كاسه به يي نسكوره وي تل
څوک چې دبل په ارمانو پرېوځـــي

شېخه په زړه كې دې ګـــناه پټه ده
ځكه تارونه له تسبو پر ېوځـــــي

هلته دبل مال په رڼاغلا كـــــوي
بياځي جومات ته په سجدو پرېوځي

غريبه ستاله مظلوميت نه قــــربان
كه خړ ګـــــــردونه په لېمو پرېوځـــي

زه حلـــــيمي ورته حيران، حيران
چـــــې دمرميو په ويشتو پرېوځـــي

خاپونه



# غزل

څومـــره دننه په پردو كې اوســـــــــي
پښتنې بياهم په لمبو كې اوســــــــي

واړه له اوښكو سره وبهـــــــــېدل
زما ارمانونه په لېموكې اوســـــــي

ښه په ارامه كړي خوبونه هــــــغه
څوک چې په دې خړو خېمو كې اوسي

چاچې بې ځايه غيرتونه كـــــــول
اوس په رڼا ورځ په تيارو كې اوســـي

دچا په مخ باندې ګــــــردونه پراته
څوک په رڼو، رڼو شيشوكې اوســـي

داځيني خلک حلـــــيمي جانانه
زموږ د زړونو په كورو كې اوســـي

حضرت خان حليمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

زموږ دچم واړه ښکلا دغم غبار وخـــــوړه
هم مو په سترګو قدمو دژوند لار وخـــــوړه

هغې مرغۍ چې کله دې ونې ته خلې راوړه
هغه مرغۍ په خپله ځاله کې نن مار وخوړه

داقاروني غوندې دنيا باندې به څه کړي هغه
نه يي په ځان وخوړه نه يي په خپل پلار وخوړه

دهغه دنګه او داښکلې کليواله ځـــــــواني
دغريبۍ لــه لاسه واړه ترېنه ښار وخـــــوړه

هېڅ به خپه نه شمه مه راځه غوسه مـــــکوه
دانرۍ شونډه دې بې ځايه په انکار وخــوړه

حليمي داسې خو هم نده چې يو تا وخـــــوړه
دغم څپېړه دلته هر سړي په وار وخـــــوړه





# غزل

هـــــمېشه ډېره زما د زړه په تل يې
ښکاري داسې رســـېدلی ترمنزل يې

دستا تورې غنم رنګې ښکلې سترګې
هېر مې نه يې ماليدلې چې پوځل يې

داچې لاس ترزنې هر وخت تاته ګورم
ګرانه خوښ مې ځکه يې شډل بډل يې

ته که هرڅو له مالرې، لرې لاړشـــې
په نصيب کې مې جانان يې زما خپل يې

ستا ښکلا زما له زړه نه غېږه تاوکړه
حلــــــيمي آشنا دزړونو والا غل يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په خپل وطن کې دمرمیو په ویشتو لاهـــــو شوې
پردي وطن کې مو ځوانۍ په سرو لمبو لاهو شوې

گیلې به نه کوو راځه دســـــــــــمندر غاړې ته
زموږه هیلې د پردېـــــــس په زولنو لاهو شوې

پردو ته هېڅ نه وایو خپلو کې په جــــنگ اخته یو
دسمون لارې مو دجهل په تیــارو لاهـــــو شوې

اوس به یـــې هم تـــــمه له ما وي او کنه ملگرو؟
د لېـــونۍ د مینــــــې هیلې په اوبو لاهــــو شوې

حلیمي گوره چې سندور په خـــــــپل تندي ووهي
دکابل پېغلې دهندي په سر یالو لاهــــــو شوې

خاپونه



# غزل

مـــــه درومه څنگه به دې زه ساتمه
ستا په دیدن باندې خـــپل زړه ساتمه

چې خوله دې راکړه زه څه نه وایمه
اوس به زه هروخت پټه خوله ساتمه

ولا چې دومره په ما گران یې اشنا
خاوره په جېب کې ستا دپله ساتمه

چې په خوارانو سلام نه اچـــــوې
دداسې خـــــــلکو پروا نه ساتمه

ما حــــــــلیمي ورسره روغه وکړه
اوس یې هر ناز پاس په لېمه ساتمه

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

هم مو خوري هم دبلا سيوري ته ناست يو
مور بې وسه دهرچا سـيوري ته ناست يو

دې وطن کې غريبي له هرڅـــــــه ډېره
مجبوري ده دپاچا ســـيوري ته ناست يو

مسافـــــــر يو لر مو پرېږده چې دمه شو
څه به نه وايې ماما ســـيوري ته ناست يو

مور دمينې مـــــــلنگان يو خير غواړو
ديدن راوړه دکلا سيوري ته ناســـت يو

دچـــــــنار په شانتې دنگې لاړه نه شې
حـــــليمي وايې دتا سيوري ته ناست يو





## غزل

وار ونه کړې خپل بانه درسره يوسه
روغ يې يوسه زما زړه درسره يوسه

مسافره ته ستنېږې خــــــپل وطن ته
زما يار ته سپين وېښته درسره يوسه

مور ځوانانو ته څه مه وايه مرگيه
ددې کلـــــي ټول زاړه درسره يوسه

مينتونه او زارۍ به ډېرې نه کـــــــړې
خوله دې راکړه بيا اوبه درسره يوسه

حليمې د مينې چل راځينې زده کړه
راشه،راشه دا تراخه درسره يوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

یو مې په ستوني کې سلگۍ پرته وه
بل مې په جام باندې خولگۍ پرته وه

هغې په ښکلـــو او خومارو سترگو
په وير لـــــړلې زندگـــــۍ پرته وه

په ټول جهان باندې تياره خوره وه
زما په غېږه کې سپوږمۍ پرته وه

ماچې دستا په لور قدم اخـــــيستو
په لار کې ســـــــل گزه رسۍ پرته وه

دليــــوني حلــــيمي پرلــــــــمن
دارمـــــــانونو کـــــکرۍ پـــــرته وه

خاپونه



# غزل

په سپينو گوتو له تصويره خــــــړ غــــبار اوباسي
ستا دراتلو امــــــــيد يې نشته انتظار اوباسي

ښه سره غرمه ده سيوری نشته وار خطاغوندې دی
په گرمو شگــــو باندې ونه دچـــــــــنار اوباسي

زموږ دکلي لېونی دومره زړه سوانـــــــده دی چې
پر ونه خـــــــيژي دکارغه له ځـــــالې مار اوباسي

څه دمـــــــــجلس ښکلي ياران يې ترېنه وسوځول
اوس ځي دزهرو هغه بوټی دکـــــــوکنار اوباسي

دخدای دپاره لږ تپوس دحلـــــيمي خو وکړه
په لار کې ناست دی له شلېدلي گريوان تار اوباسي

حضرت خان حليمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ترې قربان شمه، قـــربان پخوانی دی
داتصویر مې دجـــانان پخوانی دی

پرې پوهېږمه چې ما خـــــطا باسي
ستا په سترګوکې شیطان پخوانی دی

ستمونه اوظلـــــمونه ښه پرې وکړه
هېر يې نه کړې دا افغان پخوانی دی

چې ټوپک را واخلي شاوخوا ته ګوري
دغـــه فکر د انسان پخوانـــــی دی

لېونی ته قناعت ورکول سخت دي
چې کوي يې دا ګومان پخوانی دی

پښېمانه ترېنه نه شې خوله دې ورکړه
حلیـــــمي زړه کې ارمان پخوانی دی

خاپونه



# غزل

اوښکې تر ېنه څاڅي نم کې ستړې شوې
سترګې مې دستا په غم کې ستړې شوې

لار دپښتانه يې بنده نه کـــــــړله
ښې ډېرې پیرې تورخم کې ستړې شوې

ســــــتا دښایستونو په غزل کې مې
ګوتې مې نن دې قـــلم کې ستړې شوې

بې له کرکې یاره دلته څه نشـــــته
زموږه ارواګانې چم کې ستړې شوې

یاره حــــلیمي چې نور به څه کېږي
هیلې مې په هر قدم کې ستړې شوې

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دستا په مینه مې یقین اوباور دواړه وشول
له تاســـره چې دیدنونه په ولاړه وشــــول

زمونږ دوچو سپېرو شونډو شوه دعا قبوله
ښه بارانونه مو په کلـــي او په شاړه وشول

دجــــهنم له اوره خلکو موږه نه وېرېرو
بلا ظلمونه مې په سر او په دې غاړه وشول

دلته دهر ظالم په زړه کې ارمان پاتې نه دی
څه یې چې وغوښتل هغه کارونه واړه وشول

هغه چې شوی دي، هغو پسې سر مه گرځوه
نه به زه ژاړم او مه حـــليمي ژاړه وشول

خاپونه



# غزل

ډېره بدرنگه له هرڅه بـــدرنگه
کیسه زمـــا د ژوندانه بدرنگه

د ښایستونو ښاپېرۍ مـــلگرو
اوس شوه هغه راته له زړه بدرنگه

ما نازولي یار ته داســــې ووې
ته یې گل رنگه خیردی زه بدرنگه

په ملگرتیا به یې نو څنگه ویاړم
چې نه ښایسته لرم او نه بدرنگه

په هر یو لوښي کې خپل رنگ بدلوي
ښکلې ده اوس لکه اوبه بدرنگه

حـــليمي زړه نه کاڼی مه جوړوه
هسې نه مینه کې شې ته بدرنگه

حضرت خان حلیمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ما په تنهایي کې داعـــــــادت کړی
تل مې ســــــتا یادونو عبادت کړی

اوښکې مې چې پرېوځي ستا نامه واخلي
اوښکو مې نن داسې بغاوت کـــــړی

زه دې چې یوازې کلـــــه پرېښودم
ما له خپله ژونده اوس نفرت کـــــړی

ما خـــــوپه ټول عمر کې له تاسره
بس له لرې، لرې مـــــحبت کړی

ستا داخیرې، خیرې په لـــمن مورې
ما حـــــلیمې سیـــل دجنت کړی





# غزل

غنمو لوکوي چکـــونه مې په زړه لګوي
رڼې خولې یې اننګـــو له پاسه خوله لګوي

هغه سرې اوس تصویرونه ټول ساده جوړې
وینو په څېر ته سره رنګونه پکــې نه لګوي

ما خو دستا په دیدن داسې تنده ماته کـــړله
لکه بزګر چې دسرې چیـــــنې اوبه لګـــوي

خدایه له سترګو یې رڼا اخله تیاره پرې کوه
دلته چې څوک یو بل ته ګوته پر ماشه لګوي

دتنهایي په تورو شپوکې حـــلیمي لېونی
دزړه له درده په زنګون باندې سیـــنه لګوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

موري ځمه دا راپســـــــې وشړه
لپه کې دعـــــــا راپسې وشړه

زړه کې مې غـــمونه درنه يوړله
ښکليه لږ خـــــــندا راپسې وشړه

ژوند باندې مې کرکه که راټوله وه
خدايه بيا بلا راپسې وشــــــــړه

ماچې دخوشبو په څېر ترتا راوړي
داســـــــې يـــوه هوا راپسې وشړه

ز ه حليمي که لېونی شـــــــومه
لښـــکر دې بيا  پاچا راپسې وشړه





# غزل

جام دشونډو مه راکــــــوه مړ نه شم
ډېرې مسافرۍ کمزوری کــــړی يم

هر وختې مې تبه وي ټوخــــــــېږمه
دغې سرې ګرمۍ کمزوری کړی يم

هسې نه له غــــېږې نه مې ولوېږې
سخــــتې مزدورۍ کمزوری کړی يم

کندې، کندې مخ پورې مې مه خاندئ
سترې دنياګۍ کـــــمزوری کړی يم

ياد کې به چې راغله په سلګو به شوم
ډېر خو دې مورکۍ کمزوری کړی يم

زه حلـــــــيمي ټوله شپه ورګورمه
خوب نشته سپوږمۍ کمزوری کړی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ډېر دي په هـــنر او په کمال ايښی
تاچې نن په غـــونډه زنه خال ايښی

مااوتابه کلـــه ،چې ديدن کاوو
هغه ځای کې خلکو اوس ديوال ايښی

بيا دچا يـــادونو ځـــورولی دی
ځکه يې په مخ باندې دســمال ايښی

تاخو زه هـــمېش له خدايه غواړمه
وايه زړه کې تا څرنګه خيال ايښی

هغه دظالـــم سړي اوږه باندې
زموږه په وژولو يې مـــډال ايښی

زما چې دټيکري څوکه په څنګ شوله
دامې حلـــيمي دراتلو فال ايښی

خاپونه



# غزل

اوس يې په څـــه بهانه غلط کړمه له تانه زړګی
زما له واکه خـــو وتلی دی جانانه زړګی

دخدای لپاره خپلې شونډې په موسکا عادت کړه
يوازې ته يې نورمې تور دی له دونيـــا نه زړګی

هغه آينې ته نه ورګوري وايې ته يې پکـــې
هغه به څنګه صبروي خـــلکو له مانه زړګی

په دې صحرا کې پښو خاپونه دمجنون لـــټوم
ښار ته به يونسم له دغه بيابانه زړګـــی

دکلـــي منځ و ماشومانو راته ځير، ځير کتل
له ما روان و حـــليمي پسې له شانه زړګی

حضرت خان حليمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په رڼا ورځ کې له خپل ځانه ورک شم
په هوش کې نه یمه جانانه ورک شم

مخامخ گوري راته هېڅ نه وایې
په څه خبره زه له تانه ورک شم

چې دخوښیو نصیبونه وشي
په هغه ورځ کې له اسمانه ورک شم

دزندگي په ستړې غېږه کې زه
له تندې مرمه له بارانه ورک شم

لوی سمندر یمه داوښکو اشنا
درک مې نشته له گرېوانه ورک شم

دستا له خیاله اشنازه حلیمي
دصحرا پل یم په اسانه ورک شم





## غزل

ماته مې مور په ماشومتوب کې راښودلې پښتو
ماهم په خپله ژبه کلکه ده ساتلې پښتو

دا اوس چې ما وایې رښتیا وایه خوږه نه یمه
زه خو دستا یمه خو تا نه ده پاللې پښتو

زړونه یې ولړزي له وېرې نه گونگي غوندې شي
کله چې ستا له خولې اغیارو اورېدلې پښتو

چې پرې شرمېږې ته یې نه وایې ستا ژبه پرې شه
ستا په وجودکې خو الله پاک ده کرلې پښتو

له خدایه شکر چې پښتون یې پیدا کړی یمه
ما حلیمي په ډېره مینه ده لیکلې پښتو

# غزل

زه هره شپه په دې ارمان ویـــــده شم
تصویر ته گـــــورم دجانان ویده شم

سر په شنه کاڼي کېږدم نور څه نه وي
په خپل ریښې، ریښې گرېوان ویده شم

هغه ویل خوښي بنگلـــــــو کې نشته
په سور پالنگ کې سرگردان ویده شم

خدایه لـــــه تا نه مــــــــې دتل لپاره
غوښتـــــې ایمان چې په ایمان ویده شم

زه حـــــلیمي ستا داوربل سیوري ته
غـــــــمونه نه وي ډېر اسان ویده شم





# غزل

د اوښکو په څېر یاره گرېوانه کې را ایسار شوې
له خیاله مې وتلی وې په زړه کې را ایسار شوې

په توره شـــــپه چې بې له اجازې له کوره وځې
رښتیا ووایه څنگه په تیاره کې را ایسار شوې

له کــــــلي نه په مـــــــــنډه لیونی درپسې وم
راومې نیوې شکر دی په غره کې را ایسار شوې

خبرې مې کولې د لویانو مخکې چوپ شوم
ته ولې رانه پوښتې چې په څه کې را ایسار شوې

دا ښه دی چې په شرک سره باران حلیمي اوري
له ما نه چې وتلـــــې دروازه کې را ایسار شوې



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ښکلي مخ نه يې خواږه څڅېدل
سم ګبين وه زما پر زړه څڅېدل

د انګـــــــورو له اوبو راوتـــــــل
ستا په تکه سپينه خوله څڅېدل

زه تنها ومه په زړه مې ستا ياد
باران څاڅکي څومره ښه څڅېدل

څه عجيبه غوندې کمال يې کاوه
له بـــــڼو يې تور رانجه څڅېدل

حلـــــــيمي زما له سترګو نه
ستاد پښو په هر يو پله څڅېدل





## غزل

افغانــــــــه پله پسې دې پل روان دی
ستا په وژلو پســــــــې تل روان دی

نن بيا د ښار بڼه بدرنګه ښـــــــکاري
خدايه بيا چا پســـــــې اجل روان دی

دځـــــــوان په سر هوا دسولې راغله
درومي اوس کورته له مورچل روان دی

ز ه به نو څنګه تېرومه دا شپې
چې زړه مې  تاسر ه دی مل روان دی

دوطن مينه حـــــــليمي خوک نه کړي
هر سړی ګټه پسې خــــــــپل روان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

یارمـــــــې دراتلو راته څه نه وايــې
غــــــم له ما دتلو راته څه نه وايې

شونډې يې له جـــام سره بلـــــدې دي
ځـــــــکه دتسبـو راته څه نه وايې

زړه ته مې اور ورکړ اوروښان مي کړ
ښکلی د ډېوو راته څـــــــــه نه وايي

سر چې په دې خاوره چاورکړی دی
هيڅـــــــــوک دهغو راته څه نه وايي

څانګه کې ګلونه بويوي خـــــــلک
څوک هم داغزو راته څـــــه نه وايي

ما حلـــــــيمي وژني جدايی باندې
تش دمړه کـــــېدو راته څه نه وايي

خاپونه



## غزل

هر ځای وي دمـــينې او دګل کيسې
دلـــته وي د درز او دغـــو بل کيسې

ستا مينې دمرګ خولې ته راوستی يم
اورم له هرچانه داجــل کـــــــيسې

ګـــوره له ما لاس دمينې وانه خلې
ډېرې کړي جانان دچل ول کيسې

خپلې به هم واوري په دې کلي کې
څوک چې پټې نه ساتي د بل کيسې

وايي حـــــــليمي کله به ورکې شي
خدايه دا دجنګ او د مورچل کيسې

حضرت خان حليمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

څــه قراره قراري ده تنـــــــهايي ده
ړنگه بنگه مې ياري ده تنــــهايي ده

دبې وسه ژوند كيسه به چاته وكړم
دفكرونو كمزوري ده تنـــــهايي ده

بې وفا له لاسه دې صحراته راغلم
په زړگي مې بېماري ده تنــهايي ده

نن دزړه خبره يار ته مخامخ كړم
داخبره ضروري ده تنـــــهايي ده

حليمي دستا لپاره مې په زلفـــــــو
ما پرې كړې ښه خواري ده تنهايي ده





# څلوريزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سا ډوبی

د ژوندانه واړه ښـــکلا ډوبـــېـــده
د غره په سر کې چې رڼا ډوبېـــــده
ته چې له ډېرې مودې وروسته راغلې
له خـــوشالۍ نه زما ساه ډوبېــــده

***

## انتظار

په زړونو مو تڼاکــــــې او پولۍ دلته راخېژي
له ستوني مو د غم ډکې سلګـــــۍ دلته راخېژي
پروا يې دومره نه کړو که څراغ کلي کې نه وي
لمر ولوېږي ماښام پسې سپوږمۍ دلته راخېژي

***





## حالت

دستاله‌غــمه‌چې‌ژړېږم پرځان
اوس‌لکه‌شمعه‌ويلې کېږم پرځان
تا چې‌بېګا د شونډو جام‌راکړی
نشه نشه يـــم نه پوهېږم‌پر ځان

***

## وار

د خپل وجود مې په اوبو کې تصويرونه ويشتل
ستا بېلتانه زما په زړه کې ارمانونه ويشتل
څه توره شپه وه برېبوکۍ وې څاځکي هم ورسره
زما په جـــــونګړه کې يې نن څراغونه ويشتل

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جدايي

زمورږ په زړونو کې اوس ځای د خندا پاتې نه دی
دلته ټول وير دی دلته څوک له ژړا پاتې نه دی

اختره مه راځه له چا سره دې ولمانځمــــــــه
راسره خوا کې مسافر اشـــنا راپاتې نه دی

***

# خوب

بې خـــــــونده شپه وه ارمانونه مې قرار ويده ؤ
په سپين مړوند کې شنه بنګړي زما د يار ويده ؤ

په تــــــور ماښام کې يې پيالې له غمه پورته کړلې
بيـــــا تر سهاره په هوش نه وه ښه خـــــمار ويده ؤ

خاپونه



# وير

پر کـــــومه لاړ شمه له غمه خدايه
دلته خو هره ورځې مرمـــــه خدايه

د خپـــــل وطن پر غـــــم مې ډېر ژړلي
سترګې مې درد کوي له نمه خدايه

***

# تاو

توره شپه توره تياره ده هر څه کېږي
د دوو زړونو تلوسه ده هر څه کېږي

خواته مه راځه ګلرنګه اور به واخلې
په زړګي کې مې لمبه ده هر څه کېږي

***

حضرت خان حليمي

## خیال

چې په خندا به شولې شونډې دې په ګل بدلېدې
د ستا خوږې، خوږې خبرې په غزل بدلېدې

د پردېسۍ په تورو شپو کې به مې خیال داسې وه
زما د سر لاندې ډېرې په خنګل بدلېدې

***

## تګ

قدمونه مې یو بل پسې روان دي
ستړې، ستړې په منزل پسې روان دي

تور ماښام کې او باران کې هغه دواړه
مېخانې ته په بوتل پسې روان دي

***





## ساز

کله چې باد په دې نښترو راشي
په ګډا سر شي په سندرو راشي

زه چې د ستا مخ کې خندا پیدا کړم
هله مې ژبه په خبرو راشي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**